AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

علم گل سحر ۲۰۲۱/۰۳/۱۶

# د اننګو پسرلی

چې په دې ښار کې نازولو سره مينه کوو
لکه په څوځو کې له ګلو سره مينه کوو

ژوند خو به خود په اشارو او کنايو تيروو
درقيب خوا کې چې له ښکلو سره مينه کوو

نه غوټۍ غوړيدې بڼ کې، نه ګلونه وينو
هسې سپرلي کې له بمبلو سره مينه کوو

د اننګو د پسرلي په هيله –هيله سوځو
څکه لمبو کې له سوځلو سره مينه کوو

کمڅۍ، کمڅۍ زلفې دې څه دومره په ناز اړوې
مونږه د دار پر سر زانګلو سره مينه کوو

په نورو اوري يې د شونډو د سپرلي ګلونه
مونږ بد نصيب يې تش ليدلو سره مينه کوو

3\8\1369
کابل پوهنتون
علم ګل سحر


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ